

د افغانستان له خلکو سره د ملګرو ملتونو د خواخوږۍ بیانیه

کابل، د۲۰۱۶ کال د جولای ۲۴مه ـ ملګري ملتونه د کابل د پرونۍ ورځې د برید د قربانیانو لپاره د ملي ماتم د ورځې په مناسبت، له خلکو سره ژوره خواخوږي او همدردي څرګندوي. ملګري ملتونه په ننې ماتم کې ځان شریک ګڼي او ټپیانو ته د عاجلې روغتیا هیله کوي.

په سوله ییز ډول د خلکو لخوا د حق غوښتنې د تمثیل کولو په یوه لاریون باندې د تیرې ورځې برید له ۲۰۰۱ کال راهیسې ترټولو مرګونی پیښه وه، چې ملګرو ملتونو ثبته کړیده. دغه برید لږ تر لږه ۷۳ ملکیان ووژل او ۲۹۱ نور یې ټپیان کړل. د رپوټونو پراساس دقربانیانو لویه برخه هزاره توکمي وو.

د تیرې ورځې د برید ټپیانو ته د ویني ورکولو په موخه په صفونو کې د ولاړو نارینه وو او ښځو دریدل ددغه وحشتناک تاوتریخوالي په اړه د افغانستان د خلکو یووالي ښیي . دافراطیت په وړاندې د افغانستان د خلکو ددغه یووالي ښوونه د ارام او باثباته راتلونکي په وړاندې د ارادې او هڅې یوه نمونه ده.

د ملګرو ملتونو کورنۍ د هر تبرله هرهغه افغان سره ولاړه ده، چې د تیرې ورځې دبرید په غم کې ځان شریک ګڼي او غندي یې.

***